مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۶/۰۳/۲۰

# اختر د لنډیو په هنداره کې

## لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## ۳۶۷مه برخه

پردی وطن، پردیکوڅې دي
اختره مه‌راځه زاری درته‌کومه

اختر په خپل انګړ مزه کا
د مسافر په څه اختر وي، څه خوندونه

چې لېرالوی شوم، مسافر شوم
بیخي مې ونه‌کړل په کلي اخترونه

خلکو اختر کې غاړې‌ورکړې
ما له په پټه جانان لاس نه‌راکوینه

د چا خبره لکه ګفت چې ورته شوی وي چې د افغانانو اختر او نوي کال دې باید په وینو رنګ وي، دا دی سږ نوی کال او اختر یوځای راپېښ شول، خوا دا ځل نه پسرلی شین دی او نه هم اختر خوښي راوړه.

خبره دا ده چې نه اختر ملامت دی او نه هم نوی کال؛ پرلپسي ناخوالو موږ دومره ناتوانه کړي یو چې دوښمن هروخت وغواړي، په وینو مو رنګولی شي او دا ځل یې هم په داسي وخت کې زموږ د هېوادوالو وینې وبهولي چې نه څوک د اختر په خوښی پوهېږي او نه هم د پسرلي له شنیلي نه خوند اخیستی شي. د دوښمن دا ګوزار باید بې‌ځوابه پاتې نه‌شي.

زما د لنډیو راټولولو کار نه دربېږي، خو د ځانګړو مناسبتونو له پاره په موضوع پورې اړوند لنډۍ هم راټولوم او له خپلو درنو لوستونکو سره یې شریکوم. څوورځې مخکې مې په روژې پورې اړوند راټولې کړې لنډۍ خپرې کړې او دا دی اوس د کوچني اختر په مناسبت اختریزې راټولې کړې لنډۍ له تاسو درنو لوستونکو سره شریکوم:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پاړوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

یاره رامنډه‌که، اختر دی
دواړه لاسونه مې کولاو نیولې‌دینه

یاره رامنډه‌که اختر دی
سپینه جوړه تیاروه اختر‌راځینه

یاري د لرېځای مزه کي
هره ډالۍ يې د اختر، پرځان راځینه

پردی وطن، پردیکوځې دي
اختره مه‌راځه زاری درته‌کومه

په دې اختر کې مزه نه‌شته
زه مسافر، ادکه لرې ژوندکوینه

پرتا اختر دی، گوتې سرېکړه
پر ما سیلۍ د ببلتانه راغلې‌دینه

په دولتونو پسې ورکه
د غم اختر دی، بېله‌تا يې تېرومه

اختر نږدې ده، روژه لاړه
لیلا به چاته سری منگولې ښکاروینه

اختر ته هیڅ نه‌درنه‌غواړم
زما په‌کار دي د دوو سترگو دیدنونه

اختر په خپل انگړ مزه کا
د مسافر به څه اختر وي، څه خوندونه

اختر راغلی، خوند يې نه‌شته
زړونه ماتشوي، له مستۍ وتلې‌دینه

اختره ستا به څه‌مزه وي
له ما نه ښکلی یار جدا دی، زړه‌مې چوینه

اختر به بیا په کلي راشي
د کلي وړکي مسافر دي، څه بې کړمه

اختر ته ځوورځې وخت پاتې
پیغلې‌میراتې به د چا لارې څارینه

اختر به څه، خوښي بې څه‌وي
چې یار دې نه‌وي، څه اختر، څه يې خوندونه

اختر ته تورې جامې وکړه
په تن به ستا وي، خوند به ماته راکوینه

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**اختر دې تا ته مبارک وي**
**ما څوک بايللي، پرما نهشته اخترونه**

**اختر به بيا وطن ته راشي**
**زړګيه تللی جانان بېرته نهراځينه**

**اختر ته ځکه خوشالېږم**
**چې واده شوې نجونې کلي ته راځينه**

**اختر ته ښکلېجامې وکړه**
**که خير و، دا ځلې به خامخا درځمه**

**مېنوزړونو ته سلام دی**
**دوی بېجانانه اختر څنګه تېروينه**

**مورې اختر ته سينګار نهکړم**
**يار مسافر به په زړه څهارمان لرينه**

**چې لېږرالوی شوم، مسافر شوم**
**بيخي مې ونهکړل په کلي اخترونه**

**خلکو اختر کې غاړېورکړې**
**ما له په پټه جانان لاس نهراکوينه**

**روژه د خدای لهپاره نيسم**
**اختر به ستا لهپاره کلي ته درځمه**

**زما اختر ته جامې نهشته**
**تا د يوې پرځای، څلور ګنډلې دينه**

**ورونو اختر ته خوينډې بوتلې**
**بېورورو خوينډې به د چا په تمه وينه**

**د بلوطن به څه اختر وي**
**چې نه دې کور وي، نه دې مور په خوا کې وينه**

**دې راروان اختر له راشه**
**روژې مې تولي په سلګو نيولېدينه**

**د روژېمياشت په تېرېدو ده**
**د اختر شپه به د يار غېږ ته رسومه**

**د اخترشپې دې ياره راشه**
**که ته رانهشې، پر ما وير دي اخترونه**

**نور مې کار جوړ که، پاکه خدايه**
**څويم اخترشو پـه سفر يـې تـېرومـه**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**لاليه ځومره‌دروغجن يي**
**ما ته اختر ـ اختر کوې، تېرشول کلونه**

**که تراختره راضي نه شوې**
**زه به ګنډلي جامې اورته واچومه**

**که د اختر په شپه رانغلې**
**ته به ژوندی، زه دې په مړو حسابومه**

**ته د اختر په سهار راشه**
**زه به دروزم خورلي زلفې، سره لاسونه**

**سبا نه، بله ورځ اختر دی**
**خلک جامې ګنډي، زه روغ ګرېوان ځيرمه**

**سږ د اختر خوندونه نه‌شته**
**زړونه ماتشوي، له ارام وتلې‌دينه**

نوربيا

د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلای شئ:

http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ